

# ښه ماشوم

## او ښه تربیه د اسلامي ادابو سره

تالیف: الحاج مولوي عبدالحنان صاحب مدظلهم


فاضل جامعة العلوم الاسلامية بنوري ټاون

مهتمم مدرسه عربیه اسلامیه جامع مسجد رحماني

معاون: احمد یاسین عفاالله عنه



**مدرسه عربیه اسلامیه جامع مسجد رحماني لښکرګاه**

ویب پاڼه: www.jamairahmani.org

الدين كُلُه ادب

# بنه ماشوم

## او بنه تربيه د اسلامي ادابو سره

ددیني مدارسو او مکاتبو د حفظ او ناظرې او د ابتدایي صنفونو د شاګردانو

لپاره پر دري سوه ۳۰۰ ادبونو او اصولو مشتمل یو درسي کتاب


تالیف: الحاج مولوی عبد الحنان صاحب مدظلهم

فاضل جامعة العلوم الاسلامية علامه بنوري ټاون

مهتمم مدرسه عربيه اسلاميه جامع مسجد رحماني

معاون: احمد یاسین عفاالله عنه



مدرسه عربيه اسلاميه جامع مسجد رحماني لښکرګاه



www.jamairahmani.org

# فهرست


| شمیره | عنوان | دپاڼې شمیره |
|---|---|---|
| ۱ | یو څه دښه ماشوم د کتاب په هکله | ۲ |
| ۲ | دسلام ادبونه | ۴ |
| ۳ | د ډوډۍ خوړلو ادبونه | ۷ |
| ۴ | دڅښاک ادبونه | ۱۶ |
| ۵ | دییدیدلو او راویښیدلو ادبونه | ۲۰ |
| ۶ | د مجلس ادبونه | ۲۶ |
| ۷ | دجامو اغوستلو ادبونه | ۳۳ |
| ۸ | دخبرو کولو ادبونه | ۳۷ |
| ۹ | دسفر او پرلارۍ دتللو ادبونه | ۴۱ |
| ۱۰ | دمیلمه او کورني ژوند ادبونه | ۴۷ |
| ۱۱ | دنرېږي او ارږمۍ کښلو ادبونه | ۵۰ |
| ۱۲ | دطهارت او پاکۍ ادبونه | ۵۱ |
| ۱۳ | دقران کریم ادبونه | ۵۶ |
| ۱۴ | دښه شاګرد ادبونه او خصلتونه | ۵۸ |
| ۱۵ | دمور او پلار ادبونه | ۶۳ |
| ۱۶ | دښه شاګرد ادبونه او ښه عادتونه | ۶۶ |
| ۱۷ | دمشرانو او کشرانو مشترک ادبونه | ۷۱ |
| ۱۸ | د اولاد دښه تربیې لپاره لارښوونې | ۸۳ |


www.jamairahmani.org

# دکتاب پیژندنه


| | |
|---|---|
| دکتاب نوم : | بنه ماشوم او بنه تربیه |
| تالیف: | الحاج مولوي عبدالحنان مدظلهم |
| معاون : | احمد یاسین عفا الله عنه |
| دچاپ شمیر: | دوه زره (۲۰۰۰) ټوکه |
| همکاران : | قاری احمد جان نظامي |
| | غلام رسول سروري |
| دچاپ نیټه: | ۱۰/ ۹/ ۱۳۹۰ طبع اول |
| مالي چاري: | دعامومسلمانانو په مرسته |

ویب پاڼه

*www.jamairahmani.org*





www.jamairahmani.org

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

## يوځه د ښه ماشوم كتاب په اړه

نحمده ونصلى على رسوله الكريم اما بعد : عزتمندو لوستونكو دغه وړوكى كتاب چي پر اسلامى او معاشرتي آدابو او اصولو مشتمل دى اكابرينو او مشايخو چى د اسلامى آدابو پر موضوع باندي كوم كتابونه ليكلي دي، دا دهغو څخه خُلاصه كړل سوى دى او دماشومانو دښه تربيي دپاره ترتيب سوى دى ، او انداز و عنوان مو د هر ادب د ښه ماشوم په نامه سره صرف د ماشومانو دتشويق په خاطر كړى دى كه نه نو دا ادبونه د لويانو او غټانو دپاره هم دي نو د اهل مدارسو او مكاتبو څخه دا يو درخواست دى چى دوي دي دغه كتاب وګوري كه چيري دوي ته د قبول وړ ؤ، نو د ابتدائى صنفونو او دحفظ او د ناظري چي كوم شاګردان دي هغو ته دي روزانه يو يو درس وويل



www.jamairahmani.org

سي او كوشش وسي چې دوي يې په ياد هم كړي او
دكورنئ وظيفې په شكل سره دي په خپلو كتابچو
كښې د ځان سره وليكى نو انشاء الله ليري نه دى هغه
وخت چې هم به د دوي د ښه تربيې ديو ښه استاذ په
حيث ثابت سي او بل طرف ته به د ماشومانو املاء او
خط هم ورسره سم سي . الله ﷻ دي دا كتاب زموږ او
ستاسو او د هغه چا دپاره چې لوست يې كوي پر دې
دنيا د ښه تربيه او اصلاح او په آخرت كښې د مغفرت
ذريعه وګرځوي. امين

العبد الاحقر عبد الحنان
خادم مدرسه عربيه اسلاميه و مسجد العزيز
داړيكو شميره ٠٧٠٥٦٤٢٤٨١ - ٠٧٥٣٠١١٢٩٠



www.jamairahmani.org

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د ښه ماشوم ښه خصلتونه او ښه عادتونه

# دسلام ادبونه

## اول درس

١ ادب ښه ماشوم باید هر مسلمان ورور ته که مشر وي که کشر شناخته وي که بیګانه سلام وکړي.

٢ ادب ښه ماشوم باید خپلي کورنۍ ته هم سلام وکړي.

٣ ادب ښه ماشوم باید د سلام څخه مخکي خبري شروع نه کړي.



www.jamairahmani.org

# دوهم درس

۴ ادب ښه ماشوم باید چاته په لوړ آواز سره سلام وکړي.

۵ ادب ښه ماشوم باید د سلام الفاظ او جواب دواړه ښه زده کړي.

٦ ادب ښه ماشوم باید ناراضه شخص ته هم سلام وکړي.



www.jamairahmani.org

# دریم درس

٧ ادب بنه ماشوم باید د مشرانو او کشرانو سره مصافحه (روغبړ) وکړي.

٨ ادب بنه ماشوم باید غیر مسلم ته سلام ونه کړي.

٩ ادب بنه ماشوم باید د ملاقات او رخصت په دواړو وختونو کي سلام وکړي.



www.jamairahmani.org

# د ډوډۍ خوړلو ادبونه

## څلورم درس

۱۰ ادب ښه ماشوم باید تر ډوډۍ خوړلو مخکې لاسونه پاک ومینځي .

۱۱ ادب ښه ماشوم باید د خوراک په شروع کې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ووايي.

۱۲ ادب ښه ماشوم باید خوراک په راسته لاس سره وکړي .



www.jamairahmani.org

# پنځم درس

۱۳ ادب ښه ماشوم باید په چپه لاس خوراک ونه کړي.

۱۴ ادب ښه ماشوم باید د خوراک په وخت کي تکیه ونه وهي.

۱۵ ادب ښه ماشوم باید د خوراک په وخت کي غټي ګولې ونه خوري.

# شپږم درس

**۱۶ ادب** ښه ماشوم باید په ډوډۍ سره خپلي ګوتي پاکي نه کړي .

**۱۷ ادب** ښه ماشوم باید د خوراک په وخت کي د خپلي خواښخه خوراک وکړي .

**۱۸ ادب** ښه ماشوم باید د خپلي کورنۍ سره په ګډه خوراک وخوري .



www.jamairahmani.org

# اووم درس

**۱۹ ادب** ښه ماشوم باید په خوراک کې هیڅ وخت عیب را ونه باسي .

**۲۰ ادب** ښه ماشوم باید ډېر تاوده او ګرم خواړه ونه خوري .

**۲۱ ادب** ښه ماشوم باید په درو ګوتو سره خوراک وکړي .



www.jamairahmani.org

# اتم درس

۲۲ ادب ښه ماشوم باید دخوراک په وخت کې ډیرې خبرې او خنداوې ونه کړي.

۲۳ ادب ښه ماشوم باید هغه وخت خوراک وکړي چې وږی سي .

۲۴ ادب ښه ماشوم باید د ستړیا په وخت کې خوراک ونه کړي .



www.jamairahmani.org

# نهم درس

۲۵ ادب ښه ماشوم باید د چاپه کورکې بې ستهاوغوښتلو ډوډی ونه خوري.

۲۶ ادب ښه ماشوم باید د ډوډی خوړلو وروسته دغه دعا ووایي اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِیْنَ

۲۷ ادب ښه ماشوم باید د خوراک څخه وروسته خپلې ګوتې وڅټي.



www.jamairahmani.org

# لسم درس

۲۸ ادب ښه ماشوم باید د ضروت څخه زیات خوراک ونه کړي .

۲۹ ادب ښه ماشوم باید خوراک په ناسته سره وکړي .

۳۰ ادب ښه ماشوم باید خواړه په ساه سره پوه نه کړي :

# يوولسم درس

۳۱ **ادب** ښه ماشوم بايد تر خوراک وروسته خپل لاسونه پريمينځي.

۳۲ **ادب** ښه ماشوم بايد د مشرانو څخه وروسته په خوراک شروع وکړي.

۳۳ **ادب** ښه ماشوم بايد د خوراک لپاره خپلي ځپلی وکاږي .



www.jamairahmani.org

# دوولسم درس

**۳۴ ادب** ښه ماشوم بايد ډوډی ته پر دوو ګوتو يا يوه پښه درولې او بله پرته وي کښيني .

**۳۵ ادب** ښه ماشوم بايد د خپل لاس څخه لويدلې ګوله راپورته کړي .

**۳۶ ادب** ښه ماشوم بايد د دسترخوان د ټوليدو څخه مخکي ولاړنه سي .



www.jamairahmani.org

# دچیښناک ادبونه

## دیارلسم درس

٣٧ ادب ښه ماشوم باید د اوبو د چیښلو څخه مخکي اول بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ووایي.

٣٨ ادب ښه ماشوم باید د اوبو د چیښلو څخه مخکي په لوښي کي وګوري.

٣٩ ادب ښه ماشوم بایداوبه په ناسته سره وچیښي.



www.jamairahmani.org

# څلوارلسم درس

۴۰ ادب ښه ماشوم باید اوبه په درې ساوو سره وڅیښي.

۴۱ ادب ښه ماشوم باید په لوښي کې ساه ونه کاږي.

۴۲ ادب ښه ماشوم باید د ډیرې ستومانی په وخت کې اوبه ونه څیښي.



www.jamairahmani.org

# پنځلسم درس

۴۳ ادب ښـه ماشـوم بایـد تـر انـدازې زیـاتي اوبه ونه چیښي .

۴۴ ادب ښه ماشوم باید د لوښي د مات سوي ځایه څخه اوبه ونه چیښي .

۴۵ ادب ښه ماشوم باید د اوبو د چیښلو څخه وروسته ( الحمد لله ) ووایي .



www.jamairahmani.org

# شپاړسم درس

۴۶ **ادب** ښه ماشوم باید اوبه په راسته لاس وچیښي .

۴۷ **ادب** ښه ماشوم باید په غټ لوښي کې لکه جیک یا دیګ کې اوبه ونه چیښي.

۴۸ **ادب** ښه ماشوم باید تر چیښلو وروسته لوښی مثلاً لکه ګیلاس بیرته پر خپل ځای کښیږدي .



www.jamairahmani.org

## اوولسم درس

۴۹ ادب ښه ماشوم بايد داسې لوړ ځای ييده نه سي چې د رالوېدو خطره يې وي .

۵۰ ادب ښه ماشوم بايد تر بيديدو مخکې لګيدلی څراغ، ګروپ يا اور مړ کړي.

۵۱ ادب ښه ماشوم بايد د بيديدو څخه مخکې دروازه بنده کړي .



www.jamairahmani.org

# اتلسم درس

۵۲ ادب ښه ماشوم باید ستوني ستخ پر ملا باندي بیده نه سي چي یوه پښه پر بلي پښې راواړوي او عورت یې معلوم سي.

۵۳ ادب ښه ماشوم باید په اوداسه سره پر راسته اړخ راسته لاس تر بارخو لاندي کړي بیده سي.

۵۴ ادب ښه ماشوم باید پوړمخي او پرچپه بغل بیده نه سي.



www.jamairahmani.org

# نولسم درس

۵۵ ادب ښه ماشوم باید تر بیدیدلو مخکي خپله بستره وڅنډي .

۵۶ ادب ښه ماشوم باید تر بیدیدلو مخکي دغه دعا ووایي:

اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَاَحْيٰى

۵۷ ادب ښه ماشوم باید تر بیدیدلو مخکي سورت الفلق او سورت الناس تلاوت کړي



www.jamairahmani.org

# شلم درس

۵۸ ادب ښه ماشوم باید تل شپه په ویښه تیره نه کړي.

۵۹ ادب ښه ماشوم باید د شپې د تلویزیون او نورو خرافاتو د کتلو ځخه ځان وساتي.

۶۰ ادب ښه ماشوم باید د خوب ځخه تر راویښیدو وروسته دغه دعا ووايي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْٓ اَحْیَا نَا بَعْدَ مَآ اَمَاتَنَا وَاِلَیْهِ النُّشُوْرُ ط



www.jamairahmani.org

# يوويشتم درس

٦١ ادب ښه ماشوم بايد د راوېښېدو څخه وروسته خپل لاسونه درې واره پرېولي.

٦٢ ادب ښه ماشوم بايد داسې وخت راوېښ سي چې لمونځ په مسجد کې اداء کړي.

٦٣ ادب ښه ماشوم بايد ځان دډېراو بې ځايه خوب سره عادت نه کړي.



www.jamairahmani.org

# دوویشتم درس

٦٤ ادب بنه ماشوم باید خراب خوب چاته بیان نه کړي.

٦٥ ادب بنه ماشوم باید د بد خوب لیدلو په وخت کې درې ځله پر چپه خوا توکړي.

٦٦ ادب بنه ماشوم باید بنه خوب هغه چاته بیان کړي چې مینه ورسره لري.



www.jamairahmani.org

## درویشتم درس

٦٧ ادب ښه ماشوم باید د یوه مجلس حال بل ځای ونه وایي.

٦٨ ادب ښه ماشوم باید د ښه خلکو په مجلسو کي کښیني.

٦٩ ادب ښه ماشوم باید د بدو خلکو د مجلسو څخه پرهیز وکړي.



www.jamairahmani.org

# څلیرویشتم درس

٧٠ ادب ښه ماشوم باید په مجلس کې راتلونکو خلګو ته ځای پراخه کړي .

٧١ ادب ښه ماشوم باید بل شخص د خپل ځای څخه ولاړ نه کړي چې خپله هلته کښیني .

٧٢ ادب ښه ماشوم باید په مجلس کې تریو تندی نه کښیني او پر هر شي خوابدئ نه سي.



www.jamairahmani.org

# پنځه ویشتم درس

۴۳ ادب ښه ماشوم باید په مجلس کې د خیر خبري وکړي.

۴۴ ادب ښه ماشوم باید په مجلس کې دا کوښښ ونه کړی چې د ځان د پاره ښه ځای تلاش کړي.

۴۵ ادب ښه ماشوم باید په مجلس کې د دوو کسانو په مینځ کښې په خپله ناسته سره ځای تنګ نه کړي.

# شپږویشتم درس

۷۶ ادب ښه ماشوم باید په مجلس کې د نورو ملګرو سره نژدې نژدې کښیني.

۷۷ ادب ښه ماشوم باید د یو راتلونکي مسلمان د عزت لپاره د خپل ځایه څخه ولاړسي او ځایی ورکړي.

۷۸ ادب ښه ماشوم باید په مجلس کې مخ پر قبله ناست وي.



www.jamairahmani.org

# اوه ویشتم درس

۷۹ ادب ښه ماشوم باید په مجلس کي د بل چادناستی ځای ونه نیسي.

۸۰ ادب ښه ماشوم باید په مجلس کي ډیري خبري ونه کړي.

۸۱ ادب ښه ماشوم باید د مشرانو په مخ کي چُپ ناست وي.



www.jamairahmani.org

# اته ویشتم درس

۸۲ ادب ښه ماشوم باید په مجلس کې په چاپسې خندا او مسخرې او د هغه غیبت ونه کړي.

۸۳ ادب ښه ماشوم باید په مجلس کې د بې ادبو کسانو په شان نه کښیني.

۸۴ ادب ښه ماشوم باید د خبرو په وخت کې غصه ونه کړي.



www.jamairahmani.org

# نهه ویشتم درس

۸۵ ادب ښه ماشوم باید په مجلس کي د مشرانو مخ ته په لوړ آواز سره خبري ونه کړي.

۸۶ ادب ښه ماشوم باید په مجلس کي ځوک آزار نه کړي.

۸۷ ادب ښه ماشوم باید وهیچاته ښکنځل ونه کړي .



www.jamairahmani.org

# دیرشم درس

۸۸ ادب ښه ماشوم باید پایڅې تر بجلکو پورته و ساتي .

۸۹ ادب ښه ماشوم باید خپلې جامې تر اغوستلو مخکې وشنډي .

۹۰ ادب ښه ماشوم باید خپل لستوڼي د لاس تر کوچنی بندو پورې جوړ کړي ډیر اوږده نه وي .



www.jamairahmani.org

# يو ديرشم درس

**۹۱ ادب** ښه ماشوم بايد د جامو په اغوستلو کې د راسته طرف خيال و ساتي يعني راسته لاس يا راسته پښه مخکې کړي.

**۹۲ ادب** ښه ماشوم بايد تر خپله وسه او طاقته سپيني جامې هم په تن کړې.

**۹۳ ادب** ښه ماشوم بايد په يوه څپلی کې تګ ونه کړي.



www.jamairahmani.org

# دوديرشم درس

۹۴ ادب ښه ماشوم بايد په خپلو جاموباندي فخراو خيال ونه کړي.

۹۵ ادب ښه ماشوم بايد هيڅکله وريښميني جامې په تن نه کړي .

۹۶ ادب ښه ماشوم بايد داسي جامي په تن نه کړي چي دښځو دجامو سره مشابهت ولري .

# دروديرشم درس

۹۷ ادب ښه ماشوم باید خولی پر سر او یا
خولی او لنګوټه وتړي .

۹۸ ادب ښه ماشوم باید داسي جامي په تن
نه کړي چي عورت یي تر معلومیږي.

۹۹ ادب ښه ماشوم باید د نیکانو او صالحانو
خلګو جامه همیشه په تن کړي.



www.jamairahmani.org

# څلوردیرشم درس

**١٠٠ ادب** ښه ماشوم باید تل رښتیا او سمې خبرې وکړي.

**١٠١ ادب** ښه ماشوم باید بې له ضرورته خبرې ونه کړي او چُپ ناست وي.

**١٠٢ ادب** ښه ماشوم باید د بل چا پټو خبرو ته غوږ ونه نیسي.



www.jamairahmani.org

# پنځه دیرشم درس

۱۰۳ ادب ښه ماشوم باید خبري په نرمی او کښته آواز او ورین تندي سره وکړي.

۱۰۴ ادب ښه ماشوم باید په داسي لهجه خبري ونه کړي چي خلک آزار کړي.

۱۰۵ ادب ښه ماشوم باید بې ادبه خبري ونه کړي .



www.jamairahmani.org

# شپږديرشم درس

١٠٦ ادب ښه ماشوم بايد د يو چا راز او پټ حال بيان نه کړي.

١٠٧ ادب ښه ماشوم بايد د ناپوهانو او جاهلانو خلګو د خبرو څخه ځان ليري وساتي.

١٠٨ ادب ښه ماشوم بايد د دوو کسانو په خبرو کي ورداخل نه سي.



www.jamairahmani.org

# اووه دیر شم درس

**١٠٩ ادب** ښه ماشوم باید په مجلس کي د چا طرف ته اشارې ونه کړي.

**١١٠ ادب** ښه ماشوم باید په خبرو کي د خپل خبري کوونکي کس خیال وساتي .

**١١١ ادب** ښه ماشوم باید په مجلس کي تر ټولو لږ خبري وکړي او د نورو خبري په غور سره واوري.



www.jamairahmani.org

# دسفر او پرلارې دتللو ادبونه

## اته دیرشم درس

**۱۱۲ ادب** ښه ماشوم باید پر لارې باندې لڅې پښې تګ ونه کړي.

**۱۱۳ ادب** ښه ماشوم باید پرلاره او په سفر کې د حاجتمندو خلګو سره کومک وکړي.

**۱۱۴ ادب** ښه ماشوم باید د سفر څخه د مخه څلور رکعته نفل وکړي بیا سفروکړي.



www.jamairahmani.org

# نهه دیرشم درس

۱۱۵ ادب ښه ماشوم باید پر لاره باندي په درمیانه انداز سره تګ وکړي نه دي ډیر چابک ځي او نه دي ډیر کرار ځي.

۱۱۶ ادب ښه ماشوم باید پر لاره باندي دروند ښه په عزت او وقار سره تګ وکړي.

۱۱۷ ادب ښه ماشوم باید خپل تګ په عاجزی سره وکړي کبر او لويي به نه کوي.



www.jamairahmani.org

# څلویښتم درس

۱۱۸ ادب ښه ماشوم باید سفر د پنجشنبې په ورځ شروع کړي .

۱۱۹ ادب ښه ماشوم باید د سفر د ختمیدو څخه وروسته د کلي په مسجد کي دوه رکعته نفل وکړي .

۱۲۰ ادب ښه ماشوم باید په سفر کي د خپل ملګرو خدمت وکړي.



www.jamairahmani.org

# يو څلويښتم درس

**۱۲۱ ادب** ښه ماشوم بايد پر لاري د بيګانه ښځو سره يو ځای تګ ونه کړي .

**۱۲۲ ادب** ښه ماشوم بايد ونابلده خلګوته لاره ور وښيي.

**۱۲۳ ادب** ښه ماشوم بايد په سفر کي د بدو خبرو څخه ځان وساتي .



www.jamairahmani.org

# دوڅلویښتم درس

۱۲۴ ادب ښه ماشوم باید د چا و سلام ته جواب ووايي.

۱۲۵ ادب ښه ماشوم باید په سفر کې ځان د بدو خبرو څخه وساتي.

۱۲۶ ادب ښه ماشوم باید د لارې څخه تکلیف رسوونکي شیان (لکه: ډبره، لرګی، زوزان او داسې نور) لیرې کړي.



www.jamairahmani.org

# درو څلویښتم درس

۱۲۷ ادب بنه ماشوم بايد د سفر تر شروع کولـو د مخـه دغـه دعـا ووايـي:

بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَعُوْذُ بِكَ مِنْ اَنْ نَزِلَّ اَوْ نَضِلَّ اَوْنَظْلِمَ اَوْ نُظْلَمَ اَوْ نَجْهَلَ اَوْ نُجْهَلَ عَلَيْنَا

۱۲۸ ادب بنه ماشوم بايد يوازي سفر ونه کړي.

۱۲۹ ادب بنه ماشوم بايد په تللو کي ومشرانو ته لاره ورکړي .



www.jamairahmani.org

# دمیلمه او کورني ژوند ادبونه

## څلور څلویښتم درس

**١٣٠ ادب** ښه ماشوم باید د میلمه عزت او احترام وکړي .

**١٣١ ادب** ښه‌ماشوم باید د کور په کارونو کي د مشرانو سره کومک وکړي .

**١٣٢ ادب** ښه ماشوم باید کار وبل چاته پرې نه ږدي بلکي خپله دي وکړي .



www.jamairahmani.org

# پنځه څلویښتم درس

۱۳۳ ادب ښه ماشوم باید د خپل کور د غړو سره په ښه محبت ژوند وکړي .

۱۳۴ ادب ښه ماشوم بایددکور د کسانو غصه اوقهر وزغمی.

۱۳۵ ادب ښه ماشوم باید داسي کار ونه کړي چي کورنی په خوابدي سي.

# شپږ څلویښتم درس

**۱۳۶ ادب** ښه ماشوم باید د خپلي کورنی افراد د نیکي لاري طرف ته دعوت کړي.

**۱۳۷ ادب** ښه ماشوم باید د کوره څخه شیان غلا نه کړي ځکه چي غلا ناروا ده.

**۱۳۸ ادب** ښه ماشوم باید د کور د کسانو سره هیڅ قسم جنجال ونه کړي .



www.jamairahmani.org

## اوه څلویښتم درس

**۱۳۹ ادب** ښه ماشوم بايد د نرږي (ترچلو) راتلو وروسته الحمدُ لله ووايي.

**۱۴۰ ادب** ښه ماشوم بايد د الحمدُ لله ويونکي ته يَرحَمُک اللّهُ ووايي.

**۱۴۱ ادب** ښه ماشوم بايد د نرږي (ترچی) په وخت کي خپل مخ په لاس يا جامه سره پټ کړي.



www.jamairahmani.org

# اته څلويښتم درس

۱۴۲ ادب ښه ماشوم بايد په راسته لاس اودس وچ نه کړي.

۱۴۳ ادب ښه ماشوم بايد په راسته لاس استنجاء ونه وهي.

۱۴۴ ادب ښه ماشوم بايد لويه استنجا په لوټه يا ډبره سره ووهي او بيا اوبه استعمال کړي



www.jamairahmani.org

# نهه څلویښتم درس

۱۴۵ **ادب** ښه ماشوم باید د حاجت پوره کولو په وخت کې مخ پر قبله نه کښیني او نه هم قبلې ته شاه وګرځوي .

۱۴۶ **ادب** ښه ماشوم باید قضاء حاجت په پټ ځای کې وکړي .

۱۴۷ **ادب** ښه ماشوم باید په ولاړو اوبو کې بولې ونه کړي .



www.jamairahmani.org

# پنځوسم درس

۱۴۸ ادب ښه ماشوم باید په غسلخانه کي بولي ونه کړي.

۱۴۹ ادب ښه ماشوم باید په غارو کي بولي ونه کړي.

۱۵۰ ادب ښه ماشوم باید په ولاړي بولي ونه کړي.



www.jamairahmani.org

# يوپنځوسم درس

۱۵۱ ادب ښه ماشوم بايد دلوی بولو او وړو بولو په وخت کي خبري ونه کړي .

۱۵۲ ادب ښه ماشوم بايد پرلارو،ګودرونو، او د ناستي پرځايونو باندي وړي او غټي بولي ونه کړي.

۱۵۳ ادب ښه ماشوم بايد په خوشيو او هډوکانو سره استنجاء ونه وهي .



www.jamairahmani.org

# دوپنځوسم درس

۱۵۴ ادب بنه ماشوم باید د قضاء حاجت ځخه د مخه دغه دعا ووايي: بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡۤ اَعُوۡذُ بِكَ مِنَ الۡخُبُثِ وَالۡخَبَائِثِ ط

۱۵۵ ادب بنه ماشوم باید د قضاء حاجت ځخه د فارغه کیدو وروسته دغه دعا ووايي غُفۡرَانَكَ اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡۤ اَذۡهَبَ عَنِّیۡ الۡاَذٰی وَعَافَانِیۡ

۱۵۶ ادب بنه ماشوم باید کناراب او تشناب ته د ننوتلو په وخت چپه پښه د ننه کړي او د راوتلو په وخت کي راسته پښه د مخه کړي.



www.jamairahmani.org

## دروپنځوسم درس

**۱۵۷ ادب** ښه ماشوم بايد د قرآن کريم تلاوت په اوداسه سره په ډير عزت او آدب سره وکړي .

**۱۵۸ ادب** ښه ماشوم بايد د تلاوت په وخت کي مخ پر قبله کښيني .

**۱۵۹ ادب** ښه ماشوم بايد د تلاوت په وخت کي د تلواري ښخه کار وانه خلي بلکي تلاوت په توجه سره وکړي .



www.jamairahmani.org

# څلورپنځوسم درس

۱۶۰ ادب ښه ماشوم باید د تلاوت په وخت کي د خنداء او ټوکو څخه پرهيز وکړي.

۱۶۱ ادب ښه ماشوم باید قرآن کریم په ښايسته آواز سره تلاوت کړي.

۱۶۲ ادب ښه ماشوم باید د تلاوت په وخت کي شا او خوا ونه ګوري بلکي خپل تلاوت ته متوجه وي.



www.jamairahmani.org

## پنځه پنځوسم درس

۱۶۳ ادب ښه ماشوم باید په مسجد کې په ګوتو سره ټکان ونه کړي.

۱۶۴ ادب ښه ماشوم باید په مسجد کې ناړې تو نه کړي او نه هم پزه ټک وهي.

۱۶۵ ادب ښه ماشوم باید کوچنی او لیونی مسجد ته رانه ولي.



www.jamairahmani.org

# شپږپنځوسم درس

١٦٦ ادب ښنه ماشوم باید په مسجد کې د الله ﷻ ذکر وکړي.

١٦٧ ادب ښنه ماشوم باید په مسجد کې چټلي او ناپاکي جوړه نه کړي.

١٦٨ ادب ښنه ماشوم باید مسجد ته د لوبو سامانو نه رانه وړي.



www.jamairahmani.org

# اوه پنځوسم درس

۱۶۹ ادب بنه ماشوم باید د لمونځ کوونکو مخ ته تیر نه سي.

۱۷۰ ادب بنه ماشوم باید مسجد ته پاک صاف ورسي.

۱۷۱ ادب بنه ماشوم باید په مسجد کي د ناستي پر ځای د چا سره جنجال ونه کړي.

# اته پنځوسم درس

**۱۷۲ ادب** بنه ماشوم بايد مسجد ته د سودا سامان رانه وړي.

**۱۷۳ ادب** بنه ماشوم بايد مسجد ته په آرام او كراره سره داخل سي.

**۱۷۴ ادب** بنـه ماشـوم بايـد پـه مسـجد كـي دنياوي خبري ونه كړي.

**۱۷۵ ادب** بنه ماشوم بايد په تنګ ځاى كي د صف داخل نه سي.



www.jamairahmani.org

# نهه پنځوسم درس

۱۷۶ ادب بنه ماشوم باید مسجد ته اول وار راسته پښه ننه باسي او دا دعا وو ایي اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِيْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ

۱۷۷ ادب بنه ماشوم باید د مسجد څخه د راوتلو په وخت کي چپه پښه راوباسي او دادعا ووايي
اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ

۱۷۸ ادب بنه ماشوم باید په لمانځه کي د بدن په هيڅ اندام او ځای سره لوبي ونه کړي.



www.jamairahmani.org

# دموراوپلار ادبونه

## شپیتم درس

۱۷۹ ادب ښـه ماشـوم بایـد د مـوراو پـلار خدمت د زړه په مینه او محبت سره وکړي.

۱۸۰ ادب ښـه ماشـوم بایـد همیشـه خپـل مـور او پلار خوشحاله وساتي.

۱۸۱ ادب ښه ماشوم باید د موراو پلار سره بد اخلاقي ونه کړي.



www.jamairahmani.org

# يوشپيتم درس

۱۸۲ ادب ښه ماشوم بايد په لمانځه کي خپل مور او پلار ته دعاوي وکړي.

۱۸۳ ادب ښه ماشوم بايد د خپل مور او پلار سره په نرم او کښته آواز خبري وکړي.

۱۸۴ ادب ښه ماشوم بايد مور او پلار ته د نيکی په بدل کي د شکريی يا تشکر الفاظ ووايي.




www.jamairahmani.org

# دوشپیتم درس

**۱۸۵ ادب** ښه ماشوم باید د مور او پلار نصیحتونه پر غوږ ونیسي او عملي یې کړي.

**۱۸۶ ادب** ښه ماشوم باید په تګ کې د مور او پلار تر شا او وروسته ولاړسي.

**۱۸۷ ادب** ښه ماشوم باید د مور او پلار د دوستانو هم احترام وکړي.



www.jamairahmani.org

## دروشپیتم درس

۱۸۸ ادب ښه ماشوم باید د علم په حاصلولو کې نیت د الله ﷻ رضا وګرځوي.

۱۸۹ ادب ښه ماشوم باید د سبق په زده کولو کې شرم ونه کړي.

۱۹۰ ادب ښه ماشوم باید د خپل استاذ یا مشر د احترام دپاره ولاړ سي.



www.jamairahmani.org

# څلورشپیتم درس

۱۹۱ ادب ښــه ماشــوم بایــد خپـل اســتاذ تــه تکلیف ورنه کړي.

۱۹۲ ادب ښــه ماشــوم بایــد د خپــل مشــفق استاذ پر درد او غصه باندي خفه نه‌سي.

۱۹۳ ادب ښه ماشوم بایـد خپـل جامـه‌او بدن پاک وساتي.



www.jamairahmani.org

# پنځه شپیتم درس

۱۹۴ **ادب** بنه ماشوم باید د استاذ مخ ته په آدب سره کښیني.

۱۹۵ **ادب** بنه ماشوم باید د استاذ سبق په غوراو توجه سره واوري.

۱۹۶ **ادب** بنه ماشوم باید ډیره بې ضرورته خندا ونه کړي.



www.jamairahmani.org

# شپږشپیتم درس

۱۹۷ ادب ښه ماشوم باید د خپلو ملګرو سره په نرمی او شفقت ژوند وکړي.

۱۹۸ ادب ښه ماشوم باید د ډیرو خبرو څخه پرهیز وکړي.

۱۹۹ ادب ښه ماشوم باید پرلاره باندي موټران بایسکلان په ډبرو سره ونه ولي.



www.jamairahmani.org

# اووه شپیتم درس

**٢٠٠ ادب** ښه ماشوم باید د خپل ملګري چیلکي، پیسې یا کتاب، قلم وغیره غلا نه کړي.

**٢٠١ ادب** ښه ماشوم باید په سبقه کې غیر حاضري ونه کړي.

**٢٠٢ ادب** ښه ماشوم باید صحت ته تاوان رسوونکي شیان ددوکاندار څخه وانه خلي.



www.jamairahmani.org

## اته شپیتم درس

۲۰۳ ادب پرلاري باندي په کبر او غروراو نخرو سره مه ځی.

۲۰۴ ادب هیڅ یو نارینه باید د ښځو په مینځ کښي تګ ونه کړي.

۲۰۵ ادب روزانه سراو ږیره مه ږمونځوی بلکي یوه ورځ فاصله راولی.



www.jamairahmani.org

# نهه شپیتم درس

**۲۰۶ ادب** هغه کور چي د شوق او جنګ سپی په کښي وي هلته د رحمت فرښتې نه ورځي د ښکار او حفاظت سپی ځيني مستثنی دی.

**۲۰۷ ادب** د بل چا خبرو ته پټ غوږ مه نیسی ځکه چي دا ګناه ده.

**۲۰۸ ادب** د چا و کور او وطاق ته چي ورځی اول اجازه اخلی.



www.jamairahmani.org

# اویایم درس

**۲۰۹ ادب** د چا دروازه چې مو وټکوله او د کور سړي پوښتنه درڅخه وکړه چې څوک یاست نو خپل نوم ورته اخلی داسې مه ورته وایاست چې زه یم.

**۲۱۰ ادب** بیله اجازې د چا کوراو وطاق ته مه داخلیږی.

**۲۱۱ ادب** د یو چا کورته تراجازې اخیستلو مخکې مه ګوری.



www.jamairahmani.org

# يواويايم درس

۲۱۲ ادب د اجازې اخيستلو په وخت کې دروازې ته مخامخ مه درېږئ بلکې پر بغل ودرېږئ.

۲۱۳ ادب اجازه اخيستل ضروري ده که څه هم تاسې د خپل مور و کورته ورځئ.

۲۱۴ ادب د يو چا شی په مسخرو کې مه اخلئ چې د ځان يې کړئ.



www.jamairahmani.org

# دواویایم درس

**۲۱۵ ادب** چاقو، چاړه، یا بل تیره شی چي په پوښ کي نه وي خلاص وي چاته مه ورکوی.

**۲۱۶ ادب** موسم، زماني، او مریضی ته ښکنځل کول منع دي.

**۲۱۷ ادب** کله چي د کوچني ماشوم ژبه پر ویلو راسي نو اول وار کلمه توحید [ لا اله الا الله محمد رسول الله ] په زده کړی.



www.jamairahmani.org

# درواویایم درس

**۲۱۸ ادب** ماشـــوم چـــي د اوو کـــالو ســـو نـــو لمونځ پـه زده کړی او دلمانځـه کولو امر ورتـه وکړی او کله چي د لسـو کـالو سـو او بیـا یـي هم پـه لمانځـه کـي سسـتي کولـه نـو وهـل ورسـره وکړی ، او دخوب بسترې یي سره جلا کړی .

**۲۱۹ ادب** کله چي اول مابنام سي نو ماشومان د دباندي د وتلو څخـه منع کـړی ځکـه چـي دا وخـت شـیطانان ګرځـي او کلـه چـي اولـه حصـه دمابنام تیره سي بیا پرواه نه لري.

**۲۲۰ ادب** دروازه د الله ﷻ د نامــه پــه ویلــو سره بندوی .



www.jamairahmani.org

# خلوراويايم درس

۲۲۱ ادب او د لوښو سرونه موهم د الله ﷻ د نامه په ويلو سره پټ کړی که يي د پټولو شی نه وو نو کم ترکمه يو لرګی په بره سره پر کښيښږدی.

۲۲۲ ادب کله چي شپه درنه سي او تګ راتګ بند سي نو ډير کم دباندي وزی.

۲۲۳ ادب که د يو چا ملاقات ته ورغلاست نو دومره مه کښينی چي پر هغه باندي دا ملاقات بوج سي او مه دومره خبري کوی چي هغه ستا په ملاقات تنګ سي.



www.jamairahmani.org

# پنځه اويايم درس

۲۲۴ ادب که په تاسي کي و يو کس ته د يو کار وويل سي او تاسي يي واوری نو د هو لفظ يا د يا لفظ ورته خامخا وواياست چي د هغه کس زړه يوه طرف ته سي.

۲۲۵ ادب که تاسي د يو چا ميلمانه سولاست نو د کور به څخه د يو شي فرمايش مه کوی کيدای سي چي د هغه شي پوره کول دده په وس کي نه وي.

۲۲۶ ادب چيري چي يو دوه کسه ناست وي هلته ناړي مه توکی او يا پزه مه سوڼکی که ضرورت وي يو کونج او کنار ته سی.



www.jamairahmani.org

# شپږاویایم درس

۲۲۷ ادب د ډوډۍ په دوران کې دداسې شیانو نومونه مه اخلی چې د اوریدو نکو خوا وګرځي او تکلیف ورته ورسیږي .

۲۲۸ ادب د مریض مخته یا د هغه د کورنی مخ ته داسې خبره مه کوی چې د وی د هغه د ژونده څخه مایوسه سي بلکې د تسلی خبري کوی .

۲۲۹ ادب بدن او جامې دومره مه خیرنوی چې بدبویي ځیني پیدا سې که نورې جامې نه وي نو د غه اغوستلي جامې مو ومینځی .



www.jamairahmani.org

# اوه اويايم درس

۲۳۰ ادب چي خلک ناست وي شا او خوا ځای مه جاروکوی.

۲۳۱ ادب میلمه ته په کار دي چي موږ سو نو یو څه سالن او ډوډی پریږدي چي کوربه ته پریشاني نه سي پیدا چي میلمه وږی پاته سوی دی.

۲۳۲ ادب په لاره کي چارپایي، یا لوښی، یا وسایل مه دروی.



www.jamairahmani.org

# اته اویایم درس

۲۳۳ **ادب** ماشومان په خندا کي مه پورته او کښته کوی او نه يي هم ديو کيلکين او ديواله څخه په مسخرو کي زړوی کيدای سي چي راولويږي.

۲۳۴ **ادب** د يو چا پر پټ ځای باندي چي زخم يا دانه وي پوښتنه مه ځيني کوی چي دا تکليف دي چيري دی.

۲۳۵ **ادب** يو چا ته چي شی ورکوی نو د ليري څخه يي مه ورغورځوه بلکي په لاس سر يي ورکړه.



www.jamairahmani.org

# نهه اویایم درس

**۲۳۶ ادب** د چا سره چې دي شناخت او بې تکلفي نه وي نو د ملاقات په وخت کې يې د کور د حال پوښتنه مه کوه .

**۲۳۷ ادب** د هلکانو ومخته د بې شرمی خبري مه کوی خدانخواسته چې دوی بې حيا نه سي.

**۲۳۸ ادب** د غم يا پريشانی خبر چې دي واوريدی تر څه وخته چې يقين او تحقيق نه وي درته سوی بيانوه يې مه .



www.jamairahmani.org

# اتيايم درس

## داولاددښه تربيي لپاره يوڅو اهم اصول چي مور او پلارييي بايد په نظر کي ونيسي

تاسي ته ښه معلومه ده که اولاد له يوه طرفه د الله ﷻ نعمت دی نو له بل طرفه څخه بيا دا يو امانت هم دی په دغه امانت کي هيڅ قسم خيانت نه دی رواه کوم مور او پلار چي د اولاد سمه تربيه او روزنه نه کوي هغوی د دغه خيانت مرتکب دي موږ لاندي يو څو اصول او لارښووني ذکر کوو ترڅو هر مسلمان د خپل اولادونو د روزني په وخت کښي د دې اصولو څخه استفاده وکړي.



www.jamairahmani.org

١ ښوونه د نیکي او دینداري میرمني شیدي په رودل ځکه چي د شیدو ډیر لوی اثروي.

٢ ښوونه د نیکي او د ینداري میرمني سره نکاح ورکول .

٣ ښوونه د ماشوم ډیر ښایست او سینګار نه دی په کار .

٤ ښوونه که ماشوم هلک وي د هغه د سر وریښتان ډیر مه غټوی .

٥ ښوونه او که انجلی وي چي ترڅو هغه د پردې کولو لایقه سوې نه وي نو زر او زیور مه ور په غاړه کوی .



www.jamairahmani.org

٦ ښوونه د ډیرخوراک کولو والا بد دهغوی مختـه بیـان کـړی چـي څـوک ډیـر بې اندازې خـوراک کـوي هغـه حبشـي یـا غـویيي وي.

٧ ښوونه که هلک وي هغه ته سپیني جامې ورپه غاړه کوی د رنګه او ښځینه کالو بد د هغوی مخ ته بیان کړی چي تاسي خو انجوني نه یاست انجوني د رنګه کالو شوق لري.

٨ ښوونه او کـه انجلـی وي هـم دا ورتـه وواياسـت چـي هـره ورځ څـوښي او پیکیـان پرې کول او ټوله توجه وکالو تـه کول دا ښه کارنه دی .



www.jamairahmani.org

٩ ښوونه د بد اخلاقه ماشومانو د صحبته څخه د هغوی ساتنه کول .

١٠ ښوونه که چیري ستاسي ماشوم یو بل ماشوم ووهي او یا د کور شیان مات کړي نو هغه ته مناسبه سزا ورکړی چي بیا داسي کار ونه کړي .

١١ ښوونه ژر یي خوب ته مه پریږدی چي تر څو خپل ضروري کار یي نه وي پوره کړی .

١٢ ښوونه سهار وختي یي د لمانځه لپاره ویښوی .

١٣ ښوونه کله چي د سبق ویلو سي نو اول قرآن شریف په زده کړی.

۱۴ ښوونه کوښښ دا کوی چې د دینداره استاذ څخه زده کړه وکړي .

۱۵ ښوونه د مدرسې او ښوونځی څخه د ناغې لپاره هیڅډول اجازه مه ورکوی .

۱۶ ښوونه کله ناکله د بزرګانو او نیکانو خلګو قصې هم د هغوی مخ ته بیانوی .

۱۷ ښوونه داسي کتابونه ورته وایاست چي د دنیا د ګټي سره د آخرت ګټه هم په کښي وي .

۱۸ ښوونه د مدرسې او ښوونځی څخه د راتګ وروسته هغوی ته دلوبو اجازه هم ورکوی تر څو چي زړه یې د ښووني څخه مات نه سي .



www.jamairahmani.org

۱۹ ښوونه د لوبو تماشواو د ميلو او ډرامو د کتلو شخه يي وژغوری .

۲۰ ښوونه خپلو ماشومانو ته يو داسي کاراو هنر خامخا ور زده کړی چي د ضرورت په وخت کي بيا هغه دبل د احتياجه خلاص وي .

۲۱ ښوونه انجونو ته د ديني ښووني سره سم دومره ليک لوست هم ور زده کړی چي هغه د کور حساب کتاب کولای سي .

۲۲ ښوونه د ماشومانو عادت داسي جوړ کړی چي هغه خپل کار په خپله وکړي لکه د ماښام د خوب لپاره بستر غوړول او خپلي جامي تر بدلولو وروسته سم ځای ايښوول .



www.jamairahmani.org

۲۳ بښوونه انجونو ته دا هم وښياست چي تر خوب مخکي خپل زيور وګوري او تر ويښيدو وروسته يي هم وګوري چي ورک نه سي .

۲۴ بښوونه يو داسي کار چي پر دوی باندي درونـــد نـــه وي د دوی پـــر ذمـــه ولګـــوی ترڅو سست او بيکاره عادت نه سي .

۲۵ بښوونه هغوی ته د عاجزی او انکساری عادت ورخپل کړی چي په هيڅ قول او فعل کښي تکبر ونه کړي چي د خپلو جامو، يا خاندان او مال تعريف او ستاينه د همزولو په مخ کي ونه کړي .

٢٦ ښوونه دا ښوونه ورته وکړی چي پر لاري ځي نو ډیر تیز دي نه ځي .

٢٧ ښوونه د جیب خرڅ ورکوی چي دی د ضرورت شی په خپل طبیعت او خوښی سره رانیسي مګر دې ته یې مه پرېږدی چي یو شي ستاسي څخه په پټه رانیسي .

٢٨ ښوونه هغوی ته د خوړلو طریقه او د خلکو سره د مجلس آداب وروښیاست .

٢٩ ښوونه خپل د کوروالاوو او یا خپل د اولاد تعریف د نورو مخ ته مه کوی .

٣٠ ښوونه پر انجونو دا زور واچوی چي هغوی دي د هلکانو سره ګډې لوبي نه کوي .



www.jamairahmani.org

۳۱ ښوونه د خپلو ماشومانو د نظافت خيال وساتی چي لاس یا مخ يي چټل سي ژر يي ورمينځی.

۳۲ ښوونه زده کوونکو ماشومانو ته داسي غذا ورکړی چي دماغي قوت ولري.

۳۳ ښوونه خپل ماشومان د غلا او درواغ ويلو د عادتونو څخه وساتی.

۳۴ ښوونه خپل ماشومان پر نورو ماشومانو باندي د ظلم کولو څخه راوګرځوی.

۳۵ ښوونه داسي لوبي ورته په ګوته کړی چي د هغوی د عمر سره برابري وي.



www.jamairahmani.org

۳۶ ښوونه د خپلو ماشومانو سره خبري او مجلس کوی که څه هم هغه واړه وي ځکه چي په دې سره ددوی حوصله زیاتیږي .

۳۷ ښوونه خپل د اولاد په روزنه کي ځان مه یوازي کوی بلکي خپل مور، او پلار او نور هم د ځان همکاره وګرځوی .

۳۸ ښوونه د خپل اولاد د نوم په ایښوولو کي له احتیاطه کار واخلی ځکه چي نوم هم اثر لري .

۳۹ ښوونه ترڅو چي مو وس وي خپل ماشوم د ځان سره ګرځوی لیکن د یوڅه وخت لپاره د



www.jamairahmani.org

هغه ځخه لږ مخ یا شاته هم ځی چي هغه پوه سي چي زه یوازي هم تللای سم .

٤٠ **ښوونه** ماشومانو ته ډیره کمه سزا ورکوی د سزا پر ځای بهتره داده چي هغه ته نصیحت وکړل سي .

٤١ **ښوونه** بهتره داده چي ماشوم ته د خوشحالی او ټوکو په حالت کي څه ور زده کړی په عادي حالاتو کي ډیر کم ماشوم ته تاسي څه ورزده کولای سی .

٤٢ **ښوونه** همیشه د ماشوم د بنیادي ښیګڼو او ښو اخلاقو امید ساتی هیڅکله د خپلو ماشومانو بې عزتي او ناقدري مه کوی .



www.jamairahmani.org

٤٣ ښوونه په کومه ورځ چې ماشوم د لږ څه ناروغۍ او یا سستۍ په وجه خپلې ښوونځي ته نه ځي په هغه ورځ يې ضرور ولیږئ تر څو چې بیا يې د بهانې لټول عادت نه سي .

٤٤ ښوونه د ناروغۍ په وخت کې باید مور او پلار پر ماشومانو ډېره زیاته مهرباني و نه کړي نه همیشه داسې چې بیا يې عادت خراب نه سي .

٤٥ ښوونه ماشومانو ته بنیادي او ضروري عقائد ورښوول ډېر ضروري دي لیکن په نرمۍ او خوږه ژبه سره هم دا رنګه د لوستونکو ماشومانو سره په ورین تندي ژوند تیرول په کار دي .

٤٦ ښوونه د شروع څخه ماشوم په دغه عادت کړی چي هغه د هرچا ښو خبرو منلو ته تيار سي تر څو چي بيا هغه د خپل خدای ﷻ حکم په آسانی سره ومني.

٤٧ ښوونه که چيري مور داسي وګڼو چي ماشومان په هيڅ نه پوهيږي دا يوه لويه غلطي ده که څه هم ماشوم د هغه کار د نتيجي معلومولو ته نسي رسيدای مګر دا يقيني ده چي هغه د هغه ليدونکي شي څخه يو څه اثر ضرورا خلي.

٤٨ ښوونه د ماشوم پر عادت باندي نظر لرل پکار دي ولي چي د ماشوم توب عادات به د



www.jamairahmani.org

هغـه د ژونـدا و کـردار لپـاره اولـه زينـه وي نو خراب عادتونه يې بايد د شروع څخه اصلاح سي .

۴۹ ښوونه د ماشـومانو د خـوراک او چيښـاک لپاره هم وخت مقررول په کار دي په دې سره به د هغه صحت او روغتيا پر ځای پاته سي .

۵۰ ښوونه د مسـواک عـادت د شـروع څخـه ماشوم ته ورخپل کړی .

۵۱ ښوونه ماشـومانوته دا وښـيې چـي د خوراک څخه مخکي او وروسته خپل لاسونه ومينځي .



www.jamairahmani.org

۵۲ **بنوونه** بنځه که څه هم د لوی او امیرانو د کورنی وي خو بیا دي هم کله نا کله ماشومانو ته پیوند سوي کالي ور واغوندي .

۵۳ **بنوونه** خپله هم په لوړ آواز سره چیغي مه وهی او ماشومان مو هم د چیغو، بغارو او لوړ آواز د پورته کولو څخه منع کړی .

۵۴ **بنوونه** ماشومانو ته پر هره خبره هر کار باندي غصه مه کوی په دې سره د هغه په زړه کي نفرت زیاتیږي بلکي د هغه تربیت په مینه او محبت سره وکړی .

۵۵ **بنوونه** ماشوم ته د ښه کار کولو فضیلتونه او ګټي بیان کول ډیر ګټمن او اغیزمن کار وي .



www.jamairahmani.org

٥٦ **بنوونه** د خـــدای جل جلاله د ذات اقـــدس او د هغه د نومونو د احترام له کبله ماشوم له قسم اخیستلو څخه منعه کړی تر څو قسم اخیستل یي عادت جوړنه سي .

٥٧ **بنوونه** و ماشومانو ته داسي د لوبو شیان مه ورکوی چي هغه خپله د انساني یا حیواني شکل لرونکي وي ولي چي دا ټوله عکسونه او بتان بلل کیږي .

٥٨ **بنوونه** د میرمني لپاره دا ضروري ده چي هغه دي د ماشوم په زړه کښي د خپل پلار بیره ورپیدا کړي او هغه ته وښیي که ته غلط حرکت وکړي نو پلار به سزا درکړي .



www.jamairahmani.org

٥٩ بښوونه کله چي د کلي او کوڅو د ماشومانو ترمينځ جنګ جګړه وسي نو بې ځايه د خپل ماشوم او اولاد ملاتړ او همايت مه کوی .

٦٠ بښوونه ماشومانو ته د نورو په مخکي خصوصاً دهغو د همزولو په مخکي سختي ويناوي او ښکنځل مه کوی

٦١ بښوونه هر وخت او پر هر شي باندي هغو ته طعني مه ورکوی .

٦٢ بښوونه د سهار د لمانځه څخه وروسته دوی د قرآن کريم په تلاوت عادت کړی .



www.jamairahmani.org

٦٣ **ښوونه** کوم ماشومان چي تلاوت نه سي کولای هغوی د ذکر او کلمې په ویلو عادت کړی .

تمّ بالخیر وبعون الله تعالی

بتاریخ ١٣٩٠ \٨\١٢ یوم الخمیس



www.jamairahmani.org